مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمد سمیع صادق
۲۰۲۴/۱۰/۰۷

# تخلیق که تکامل

## دریمه برخه

ډاروین دا ستونزه په ښکاره توګه د یوې ننګونکي موضوع په توګه پېژندلې وه. د بېلګې په توګه، هغه وايي: ((د دې تصور کول چې سترګه ... دې د ارتقا په وسیله رامنځته سوې وي، زه په صراحت سره اعتراف کوم چې دا نظریه په لوړه کچه نامعقوله ښکاري.)) د ډاروین له دې خبرې څخه تر یوه نیمي پیړۍ زیاته موده تېره سوې ده. آیا دا ستونزه حل سوې ده؟

نه، برعکس، له ډاروین وروسته ترسره سوې څېړنې ښیې چې سترګه تر هغه لا ډېره زیاته پېچلې ده، تر کومه حده چې ډاروین ئې په اړه پوهېدی. په دې اړه جسترو داسې بیان کوي: ((سترګه داسې ښکاري، لکه د یوې دقیقې طرحې پایله چې وي؛ په نړۍ که به هېڅ دوربین جوړونکي (ټیلیسکوپ جوړونکی) په دا ندازه او تر دې غوره تخلیقي کار تر اوسه نه وي کړی.))

که د سترګې په اړه دا استدلال درست وي، نو د انسان دماغ په اړه به څه وواېو؟ په داسې حال کې چې حتی یو ساده ماشین په تصادفي ډول منځ ته نه راځي، نو څنګه ممکنه ده چې د انسان پېچلی دماغ دې په تصادفي توګه رامنځته سوی وي؟ جسترو په دې اړه خپل نظر داسې وړاندې کوي: ((د دې منل ستونزمن دي چې د انسان سترګه دې د تصادف محصول وي؛ او دا خبره منل نور هم سخته ده چې د انسان ذهني وړتیاوې او هوښیاري دې زموږ د نیکونو په مغزو کې د حجرو د تصادفي ګډوډیو څخه وروسته رامنځته سوې وي.))

### د فوسیلونو سره تړلې نظریاتي ستونزې:

ساینسپوهانو د پخواني ژوند په اړه په ملیونونو هډوکي او نور شواهد موندلي دي، چې دوی ئې فوسیلونه بلي. که چېرې د ارتقا نظریه یو حقیقت وای، نو په دې شواهدو کې باید کافي نښې موجودې وای چې یو ډول ژوند بله ډول ته په تدریجي ډول بدل سوی وي. خو د شیکاګو فیلډ میوزیم بولیټین په دې اړه داسې تبصره کړې ده: ((د ډاروین د ارتقا نظریه تل د فوسیلونو له شواهدو سره نږدې تړلې ده، او ښایي ډېری خلک فکر کوي چې فوسیلونه د ډاروینې نظریاتو د تایید لپاره ډېر مهم شواهد وړاندې کړي دي. خو متاسفانه، دا ادعا سمه نه ده.))

دا تبصره د دې خبرې څرګندونه کوي چې د فوسیلونو شواهد د ارتقايي بدلونونو د څرګندولو په برخه کې داسې نه دي چې د ډاروین نظریه په بشپړه توګه تایید کړي.

ولې نه؟ بولیټین په دې اړه زیاتوي چې ډاروین د فوسیلونو د شواهدو له امله شرمنده وو، ځکه چې دا شواهد د هغه د وړاندوینو سره سمون نه درلود... د ځمکپوهنې شواهد نه هغه وخت او نه هم اوس د یو تدریجي او ورو پرمختیايي تکامل نښې ښکاره کوي. بولیټین توضیح ورکوي چې له یوه نیمې پیړۍ وروسته، چې فوسیلونه راټول سوي دي، موږ د ډاروین د عصر په پرتله د ارتقايي بدلونونو کمترې بېلګې لرو. او دا ولې؟ ځکه چې نن ورځ د فوسیلونو ډېرو شواهدو څرګنده کړې ده چې ځینې هغه بېلګې چې یو وخت د ارتقا د تایید لپاره کارول کېدې، اوس په څرګنده توګه د هغو خبرو ملاتړ نه کوي، دا په دې خاطر چې د ننۍ نړۍ علمي واقعیتونه د هغو نمونو مخالف دي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

د فوسیلونو د شواهدو د ارتقا ملاتړ نه کول، د ډېرو ارتقايي پوهانو لپاره يوه مهمه ستونزه ګرځېدلې ده. په «نوی ارتقايي مهالویش» کتاب کې، ستیون ستېنلي د دې عمومي ناکامۍ يادونه داسي کوي چې فوسیلونه د يوې لويې حياتي ډلې څخه بلې ته تدریجي بدلونونه نه څرګندوي. ستېنلي په دې اړه وايي: ((د پېژندل سويو فوسیلونو ثبت د ورو

پرمختګ له نظريې سره په هېڅ وخت کې همږغي نه ده درلودلې.)) نايلز ايلډريج هم په دې تړاو اعتراف کوي، او وايي: ((هغه بڼه (په فوسیلونو کې) چې موږ ته په تېرو ۱۲۰ کلونو کې ويل سوې وه چې وموميې، شتون نه لري.)) دا څرګندوني د دې لپاره مهمې دي چې د ارتقايي نظرياتو پر بنسټ د فوسیلونو د شواهدو په اړه شکونه او اندېښنې راپورته کوي، چې په دې سره د تدریجي تکامل پر نظريه د باوراو څېړنو اړتيا زياتوي.

ژباړه او زياتونه: محمد سميع صادق



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de

يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ